د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۲٦/شعبان المعظم /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۱۸/حوت /۱۴۰۲هـ، ش

# د رسول اکرم صلّی الله علیه وسلّم د معجزاتو بيان

الحمد لله، أرسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله و لوكره المشركون، و أشهد أنَّ نبينا محمداً عبد الله و رسوله، أرسله هاديا و مبشرا و نذيرا، و داعياً إلى الله بإذنه و سراجاً منيرا، فبلغ الرسالة،و أدَّى الأمانة،و نصح الأمة،و جاهد في الله حق جهاده، صلوات الله و سلامه عليه و على آله الأبرار،و صحبه الأخيار، و التابعين و من تبعهم بإحسان الى يوم الدين، أما بعد:قال الله سبحانه وتعالی وهو أصدق القائلين:(هُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ عَلَى عَبْدِهِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَإِنَّ اللَّهَ بِكُمْ لَرَؤُوفٌ رَحِيمٌ).الحديد: (۹)

الله جل جلاله د خپل فضل او مهربانۍ له مخې د انسانانو د هدايت او لارښوونې لپاره په هر وخت کې پيغمبران او رسولان راليږلي دي؛ ددې لپاره چې پيغمبران او رسولان د الله جل جلاله احکامات، لارښوونې او پيغامونه خلکو ته ورسوي او انسانان د الله تعالی عبادت ته راوبلي او له کفر او شرک څخه يې منع کړي ، صالحانو او نيکانو ته د جنت زيری ورکړي او کافران او فاسقان د جنهم دعذاب څخه وويروي، ترڅو پر انسانانو باندې دالله تعالی حجت قائم شي او بيا دوی دا ونه وايې چې مونږ ته څوک لارښود نه ؤ راغلی؛ ځکه مونږ بې لارې او گمراه شوي ؤ.

بيـا اللـه جـل جلالـه د خپلو پيغمبرانو تـائيـد په معجزو سره کړی دی او خپلو پيغمبرانو ته يې معجزې ورکړی دي چې د پيغمبرانو په رېښتينولۍ دلالت وکړي او په معجزو سره به پيغمبرانو مخالفين او معاندين چيلنج کول چې دا په حقيقت کې ددې دليل دی چې پيغمبر د الله تعالی رېښتينی استازی او رسول دی؛لکه الله تعالی صالح عليه السلام ته اوښه د معجزې په طور ورکړی وه،موسی عليه السلام ته يې امسا دمعجزې په طور ورکړی وه اوعيسی عليه السلام ته يې د ړندو رغول،دابرص مرض والارغول او دمړو ژوندي کول دمعجزو په طور ورکړي ؤ.

الله تعالی وخت او حالاتو ته په کتو سره پيغمبرانو ته داسې معجزې ورکړی وی چې د هغه وخت رسيدلي او پوهه خلک به د پيغمبر د معجزې د مقابلې څخه عاجزه ؤ، مثلا د موسی عليه السلام په وخت کې خلک په سحر او جادو گری کې اوج ته رسيدلي ؤ ، نو الله تعالی موسی عليه السلام ته امسا چې ورڅخه به مار او اژدها جوړيده د معجزې په ډول ورکړه او ټول ساحران د هغې د مقابلې څخه عاجزه شول، همداراز د عيسی عليه السلام په وخت کې طب او طبابت ډير پرمختگ کړی ؤ او طبيبانو به د هر ډول مرض علاج کولو خو دوی د ابرص د مرض ، دمورزادي ړوند او د مړي د ژوندي کولو څخه عاجزه ؤ ، الله تعالی عيسی عليه السلام ته داسې معجزه ورکړه چې د هغه وخت ماهره طبيبان ورڅخه عاجزه ؤ چې هغه د مورزادي ړوند جوړول ؤ، د ابرص مرض جوړول ؤ او مړي ژوندي کول ؤ.

همدا راز الله جل جلاله زمونږ محبوب پيغمبرحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته هم سترې سترې معجزې ورکړي دي چې د هغو معجزو ترمنځ ستره معجزه قرآن کریم دی؛ دا ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې عربان په عربي ادب او عربي علومو او فنونو کې زيات ماهره ؤ او عرب په عربي فصاحت او بلاغت کې اوج ته رسيدلي ؤ، الله تعالی زمونږ آخري پيغمبر ته داسې معجزه ورکړه چې د هغه وخت څخه تر قيامت پورې انسانان د قرآن کريم په څير د يو آيت له جوړولو څخه عاجزه او ناتوانه دي.

## د معجزې تعريف:

**د معجزې شروط او حقيقت:**

**علمای کرام وايې چې دمعجزې شروط په لاندې ډول دي:**

۱-معجزه به د خلاف عادت او خارق العاده شيانو څخه وي لکه د ابراهيم علیه السلام لره د اور نه سوزول، د موسی علیه السلام او دهغه قوم لره دریاب نه غرقول.

۲-دا خارق العاده شی او کار به د الله تعالی فعل وي او دبنده له کسب څخه به نه وي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَنْ يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ فَإِذَا جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ) (غافر، آية: ۷۸).

ترجمه: او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخکې ډېر رسولان رالیږلي وو، په دوی کې ځينې هغه دي چې مونږ تا ته بيان کړي دي او په دوی کې ځينې هغه دي چې مونږ تا ته نه دي بيان کړي. او د هېڅ رسول لپاره دا ممکن نه وه چې هغه پخپله کومه معجزه راوړي مگر د الله په حکم سره، نو کله چې د الله حکم راشي (نو) په حق سره به فيصله وکړی شي او په دغه وخت (او ځای) کې به باطل پرستان تاوانیان شي

۳-معجزه به د مقابلې او معارضې څخه محفوظ وي.څوک به مقابله نشي کولای.

۴-معجزه به په هغه شان رامنځ ته کيږي لکه څرنگه چې يې مدعي دعوا کوي.

۵-په معجزه کې چلنج اوتحدي شرط ده. له خلکو به غوښتل کيږي چې که چيرې دا دبشر کاروي نو تاسې يې هم وکړئ.

٦-معجزه به په حيث د دليل هغه څوک وړاندې کوي چې د نبوت دعوا کوي.

۷-معجزه د خير او سعادت لپاره وي؛ ترڅو خلک ايمان راوړي او سعادت ورته حاصل شي.

**د معجزې او سحر ترمنځ توپير:**

امام قرطبی رحمه الله وايي: سحر دساحر او غير ساحر دواړ څخه صادريدلی شي او داهم کيدی شي چې څوک په سحر پوهيږي ټول په يو وخت کې سحري عمل وکړي او معجزه د الله تعالی په حکم صادريږي او هيڅوک په دې نه قادروي چې د معجزې په مثل راتلل وکړي او د معجزې مقابله وکړي. بل ساحر دعوه د نبوت نه کوي نو هغه څه چې ساحر کوي هغه له معجزې څخه جدا شی وي ځکه د معجزې شرط دادی چې معجزه به دنبوت دعوا سره تړلی وي او په معجزې سره به چلنج کوي. تفسير القرطبي (۲/ ٤٧)

همدا راز سحر د بشر فعل دی او معجزه دالله تعالی فعل دی. بله داچې په سحر سره ذات او حقیقت د شي نه بدلیږي بلکې سترګو ته تخییل او دوکه ورکول وي او په معجزه کې د شي ذات او حقیقت بدلیږي لکه د موسی علیه السلام امسا چې په مار به حقیقةً بدله شوه.تفسیر السراج المنیر (۱/ ۵۰۱)

## د رسول اکرم صلَّی الله علیه وسلّم د معجزو تفصیل:

الله جل جلاله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته بې شمیره معجزې ورکړي دي چې ځینې علماء وایې ، د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د معجزو شمیر زرو ته رسیږي، چې ځینې مشهورې یې په لاندې ډول دي:

۱- قرآن کریم د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم معجزه ده: دا ددې موضوع اصل محوري بحث دی، هو قرآن کریم د اخیرني پیغمبر حضرت محمدصلی الله علیه وسلم معجزه ده، چې د الله تعالی له لورې ورکړل شوې ده.
قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، چې د حضرت جبرائیل علیه السلام په واسطه پر حضرت محمدصلی الله علیه وسلم په مختلفو زماني او مکاني پړاوونو کې په درنه عربي ژبه نازل شوی دی. همدا قرآن کریم ددې ویناوو شاهد او ښه ثبوت دی: (وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ . نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الأَمِينُ.عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ. بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ)الشعراء:(۱۹۲-۱۹۵)
ترجمه: او بېشکه دا (قرآن) د رب العلمین (له جانبه) نازل کړی شوی دی دا جبریل امین راکوز کړی دی ستا په زړه باندې، د دې لپاره چې ته له وېروونکو څخه شې په ښکاره عربي ژبه کې
سربیره پر دې چې قرآن کریم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم معجزه ده په خپل ذات کې هم ګڼ علمي اعجازونه لري لکه: معنوي اعجاز، بیاني اعجاز، لغوي او ترکیبي اعجاز، د غیبو څخه د خبرولو په برخه کې معجز دی... ددې هریو بیانول او پرې تفصیلا غږیدل عادي خبره نده هریو یې علمي تخصصي ساحه ده چې ګڼې درنې لیکنې پرې شوي. د قرآن کریم همدې اصل او خاصیت په لرلو سره دا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لپاره معجزه شوه، ځکه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نالوستی(امی) انسان وو، هغه صلی الله علیه وسلم یتیم شخص وو، پداسې مغلق او پیچلي ( د پرمختلو علمي اعجازونو) لرونکي الهي کلام کتاب باندې یو ناڅاپه پوهېدل ربښتیا هم معجزه ده، چې دا د هرچا د وس کار نه وو، او نه دي! هغه قرآن چې سلګونه تفسیرونه او تحلیلونه یې په مختلفو ژبو شوي!
له بل پلوه د مکې کفارو او مشرکینو به ویل چې دا قرآن کریم ده له ځانه جوړ کړی دی او یا ورته فلاني (شخص) وربښودلی دی، الله تعالی دوی چلنج کړل او ورته یې وویل چې که تاسو وایې چې دا قرآن کریم رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له ځانه جوړ کړی دی تاسو دا کار په شریکه سره وکړئ؟.الله تعالی فرمایي: (أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ بَل لا يُؤْمِنُونَ * فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِثْلِهِ إِنْ كَانُوا صَادِقِينَ) [الطور: ۳۳-۳۴].

ترجمه: ایا دوی وایي چې دا (قرآن) ده له ځانه جوړ کړی دی (داسې نه ده) بلکې دوی ایمان نه راوړي نو دوی دې د ده په شان خبره راوړي که دوی ربښتیني وي

بیا الله تعالی وفرمایل حتی که انسانان او پیریان ټول راجمع شي چې د قرآن کریم په شان په بلاغت او فصاحت کې کتاب ولیکي او یو بل ته لاسونه سره ورکړي، دا کار به هیڅکله ونشی کړای.(قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيراً) الاسراء:(۸۸)

ترجمه: ته ووایه: خامخا که انسانان او پیریان ټول پر دې خبره سره جمع شي چې د دې قرآن مِثل راوړي (،نو) د ده په مثل به رانه وړی شي اگر که د دوی ځینې د ځینو نورو ملاتړي (هم) وي

هرکله چې ددې څخه عاجزه شـول ، الله تعالی په چلنج کې تخفیف راوست او ورته وفرمایل که د ټول قرآن کریم په څیر مکمل کتاب نشی جوړولای نو دده په شان لس سورتونه جوړ کړئ. (أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ).هود: ۱۳

ترجمه: ایا دوی وایي چې دا یې له خپله ځانه جوړ کړی دی؟ ته (ورته) ووایه: نو تاسو د ده په مثل لس سورتونه راوړئ، چې له خپله ځانه جوړ کړی شوي وي او له الله نه غیر چې څوك كولى شئ راوغواړئ، كه چېرې تاسو رښتيني يئ.

هرکله چې ددې څخه هم عاجزه شول الله تعالی ورته یو سورت جوړ کړئ. (أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ). یونس: ۳۸

ترجمه: ایا دوی وایي چې ده دا له ځانه جوړ کړی دی، ته (دوی ته) ووایه: نو تاسو یو وړوکی سورت د ده په مثل راوړئ او له الله نه پرته چې څوك كولى شئ راوبلئ، كه چېرې تاسو رښتيني يئ
د قرآن کریم همدا اعجاز و، چې نړۍ کې یې انقلاب راوست، جهالتونه یې محوه کړل او د اسلام په نوم یې په نړۍ کې د سعادت رڼاکانې خورې کړې . د قران کریم د تلاوت په اوریدو سره هغه وخت هم ډیر ستر ستر کافران بیا د حضرت عمررضي الله عنه په څېر د اسلام ستر ستر رهبران شول. او د کفارو سترو کسانو ددې اعتراف کړی دی چې دا د بشر وینا نه ده.
د قرآن کریم په اعجاز خپله کفارو اعتراف کړی دی . ولید بن مغیره چې د قریشو د سردارانو څخه ؤ او زیات مال او مقام یې درلود او لس زامن یې لرل ، یو ځل نبي کریم په مسجدالحرام کې قرآن کریم تلاوت کولو او ولید بن مغیره واوریدلو او سخت تاثیر یې وربانديې وکړ خپل قوم ته یې وویل: (وَاللهِ لَقَدْ سَمِعْتُ مُحَمَّداً آنِفاً يَقُولُ كَلاَماً مَا هُوَ مِنْ كَلاَمِ الإِنْسِ ، ولاَ مِنْ كَلاَمِ الجِنِّ ، إِنَّ لَهُ لَحَلاَوَةً ، وَإِنَّ عَلَيْهِ لَطَلاَوَةً ، وَإِنَّ أَعْلاَهُ لَمُثْمِرٌ ، وَإِنَّ أَسْفَلَهُ لَمُغْدِقٌ ، وَإِنَّهُ يَعْلُوا وَمَا يُعْلَى عَلَيْهِ . تفسیر البغوي (۸ /۲۶۸)
ترجمه: قسم په الله یقیناً ما د محمد-صلی الله علیه وسلم- څخه یو کلام واوریدلو چې هغه ویلو چې نه د انسانانو خبری وئ او نه د پیریانو خبرې وئ ، بیشکه په هغه کې ډیر خوږوالی پروت ؤ، په هغه کې ډیر ښایست او رونق پروت ؤ، لوړوالي یې میوه لرونکی ؤ او ښکته والی کې یې ډیر زور والی پروت ؤ او بیشکه هغه برلاسی کیږي خو په هغه برلاسی کیدل نه کیږي.

نبي علیه السلام فرمایي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنَ الأَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ إِلَّا أُعْطِيَ مَا مِثْلهُ آمَنَ عَلَيْهِ البَشَرُ، وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِي أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَاهُ اللَّهُ إِلَيَّ، فَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ القِيَامَةِ ).صحیح البخاري( ۶ /۱۸۲)

ترجمه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي په انبیاوو کې داسې نبي نشته مگر ورکړل شوی دی ورته داسې څه چې باید ایمان راوړی وی د هغې له امله انسانانو او بیشکه هغه څه چې ماته راکړل شوي دي هغه وحی ده چې الله تعالی یې ماته وحی کړی ده(قرآن کریم)، زه امید لرم چې یم به زه زیات په اعتبار د امتیانو سره د قیامت په ورځ.

۲-د سپوږمۍ څیرې کیدل او دوه ټوټې کیدل: د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په معجزاتو کې بله معجزه هغه د سپوږمۍ څیرې کیدل او دوه ځایه کیدل دي.

ددې معجزې په اړه الله تعالی فرمایلي دي: (اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ). القمر: (۱)

ترجمه: قیامت رانږدې شو او سپوږمۍ څیرې (دوه ټوټې) شوه.

په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ أَهْلَ مَكَّةَ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَأَرَاهُمْ الْقَمَرَ شِقَّتَيْنِ حَتَّى رَأَوْا حِرَاءً بَيْنَهُمَا). صحیح البخاري (۹ /۴٦۰)

ترجمه: د انس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې اهل مکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وغوښتل چې دوی ته یوه معجزه وښایې، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته سپوږمۍ وښودله په داسې حال کې چې دوه ټوټې شوی وه آن تردې پورې چې دوی ددواړو ټوټو ترمنځ دحراء غر ولیده.

د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه په روایت کې راځي هغه وایې :(عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِرْقَتَيْنِ فِرْقَةً فَوْقَ الْجَبَلِ وَفِرْقَةً دُونَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْهَدُوا). صحیح البخاري (۱۲ /۱٤٤)

ترجمه:عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وایې څیرې شوه سپوږمۍ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دوه ټوټې شوه یوه ټوټه د حراء د غر د پاسه شوه او بله ټوټه د حراء د غر څخه لاندې شوه او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: گواه اوسئ د سپوږمۍ په دوه ټوټه کیدو باندې.
علماءکرام وایې چې اهل مکه دمکې څخه بیرون له مسافرو څخه هم پوښتنه وکړه چې آیا تاسو ولیدله چې سپوږمۍ دوه ټوټې شوی وه؟ هغوی ورته وویل : هو! مونږ هم ولیدله چې سپوږمۍ دوه ټوټې شوی وه. دا واقعه د هجرت څخه پنځه کاله مخکې واقع شوی وه. د عبدالله بن عباس رضي الله عنه روایت کې راځي چې اهل مکه د نبي علیه السلام څخه وغوښتل چې که چیرې ته په رښتیا پیغمبر یي دا سپوږمۍ دوه ټوټې کړه . هغه ورته وویل چې که چیرې زه داسې وکړم تاسو به ایمان راوړی؟ هغوی وویل : هو !مونږ به ایمان راوړو.

نبي علیه السلام خپل رب ته سوال وکړ چې دا سپوږمۍ دوه ټوټې کړه، نو سپوږمۍ دوه ټوټې شوه او نبي علیه السلام به هر یو ته آواز کولو چې ای فلانیه ته په دې معجزه شاهد اوسه! ای فلانیه ته په دې شاهد اوسه!. [کشف المشکل من حدیث الصحیحین (ص: ۱۹۲)]

۳-د رسول الله صلی الله علیه وسلم د گوتو له منځو څخه د اوبو بهیدل: د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم بله معجزه د هغه د گوتو له منځو څخه د اوبو بهیدل دي.په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا نَعُدُّ الآيَاتِ بَرَكَةً، وَأَنْتُمْ تَعُدُّونَهَا تَخْوِيفًا، كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَقَلَّ المَاءُ، فَقَالَ: «اطْلُبُوا فَضْلَةً مِنْ مَاءٍ» فَجَاءُوا بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ قَلِيلٌ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِي الإِنَاءِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الطَّهُورِ المُبَارَكِ، وَالبَرَكَةُ مِنَ اللَّهِ فَلَقَدْ رَأَيْتُ المَاءَ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.). صحیح البخاري (٤ /۱۹٤)

ترجمه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې مونږ به معجزې برکت گڼلې او تاسو یې ویره بولئ، مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په یو سفرکې ؤ( صلح حدیبیه وه او یا خیبرغزوه) ،نو اوبه کمې شوی ، نبي علیه السلام وفرمایل: راوړی هغه اضافه پاتې شوی اوبه صحابه کرامو یو لوخی راوړ چې په هغه کې کمې اوبه وی، بیا داخل کړ نبي علیه السلام په هغه لړو اوبو کې لاس مبارک، بیایې وفرمایل: راشئ پاکو اوبو لره اومبارکو اوبو لره او برکت دالله تعالی له لورې دی، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایې : مالیدلی اوبو لره چې را خوټکیدلی به مابین د گوتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه.

۴-د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم په امر سره د ونې راتلل د هغه خواته او پر هغه سلام اچول: د نبي عليه السلام بله معجزه د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم خواته د هغه ونې راتلل دي چې ده ورته اشاره وکړه چې راشه او پر هغه يې سلام واچولو.په حديث شريف کې راځي:(عَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ بِالْحَجُونِ فَرَدَّ عَلَيْهِ الْمُشْرِكُونَ فَقَالَ: «اللَّهُمَّ أَرِنِي آيَةً الْيَوْمَ لَا أُبَالِي مَنْ كَذَّبَنِي بَعْدَهَا» فَأَتَى فَقِيلَ لَهُ ادْعُ شَجَرَةً، فَدَعَا شَجَرَةً فَأَقْبَلَتْ تَخُطُّ الْأَرْضَ حَتَّى انْتَهَتْ إِلَيْهِ فَسَلَّمَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَمَرَهَا فَرَجَعَتْ). قال الهيثمي: رواه البزار وأبو يعلى، وإسناد أبي يعلى حسن. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۹ /۱۰)

ترجمه: د عمر رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم په مکه مکرمه کې ؤ او مشرکينو د هغه وينا رد کړه ، نبي عليه السلام وفرمايل ای ربه! ماته نن ورځ زما د حقانيت لپاره يوه نښه وښايه زه به هيڅ پروا نه کوم دهغه چاچې ما درواغجن بولي د هغې څخه وروسته. هغه (جبرائيل) راغی او ورته وويل شول يوې ونې ته آواز وکړه ، هغه يوې ونې ته آواز وکړ هغه ونه راغله چې ځمکه يې څيروله تر دې چې نبي عليه السلام ته راورسيده او پر نبي عليه السلام يې سلام واچولو بيا نبي عليه السلام ورته امر وکړ چې خپل ځای ته لاړه شه هغه خپل ځای ته ولاړه.

۵-د خرما د ونې د ږدې فرياد کول : د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم بله معجزه داوه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم به مخکې له دې چې ممبر جوړ شي د خرما د ونې ږدې ته خطبه ويله کله چې ممبر جوړ شو ، نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم دغه ځای پريښود او پـه ممبر بـه يې خطبه ويله ، د جدايې د وجې نه د خرما د ونې ږدې فرياد شروع کړ ترڅو چې نبي عليه الســلام ورته راغی او غيږه يې ورکړه.په حديث شريف کې راځي: (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْطُبُ إِلَى جِذْعٍ، فَلَمَّا صُنِعَ الْمِنْبَرُ فَتَحَوَّلَ إِلَيْهِ، حَنَّ الْجِذْعُ، فَأَتَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحْتَضَنَهُ، فَسَكَنَ ، وَقَالَ: لَوْ لَمْ أَحْتَضِنْهُ لَحَنَّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ) مسند أحمد(۵ /۳۹۹) وقال احمد شاکر: اسناده صحيح.

ترجمه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې بيشکه پيغمبر عليه السلام به خطبه ويله د خرما ږدې ته يعنې هغې ته به يې تکيه وهله او دا د خرما ږدې دمسجد نبوي يوه ستن وه). کله چې ممبر جوړ شو نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم ممبر ته نقل شو ، فرياد او ژړا وکړه هغه د خرما ږدې (لکه د اوښې د فرياد په شان فرياد يې وکړ) -په يو روايت کې راځي چې ددې ږدې فرياد د مسجد ټولو خلکو واوريده- ، رسول اکرم صلى الله عليه وسلم ورته راغی او هغه يې په غيږه کې ونيوله نو بيا هغه چوپ او ارامه شوه او نبي عليه السلام وفرمايل: که چيرې دا ږدې ما په غيږ کې نه وی نيولی نو فرياد به يې کولو تر قيامت ورځې پورې.

٦-د سراقه بن مالک د آسپې(د خسف) په ځمکه کې ننوتلو معجزه: د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم بله معجزه دا وه چې د هجرت پر وخت يې سراقه بن مالک ته ښيرا وکړه -چې د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم او د ابوبکر صديق رضي الله عنه د نيولو پسې روان ؤ-او دهغه آسپه په ځمکه کې تر خيټې پورې پر ځمکه کې خښه شوله.

په متفق عليه روايت سره له براء بن عازب رضی الله عنه څخه حديث روايت نقل شوی دی، نوموړی وايي چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د هجرت واقعه ذکر کولو په جريان کې وويل: (فَارْتَحَلْنَا بَعْدَمَا مَالَتِ الشَّمْسُ، وَاتَّبَعَنَا سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ، فَقُلْتُ: أُتِينَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: «لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا» فَدَعَا عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَطَمَتْ بِهِ فَرَسُهُ إِلَى بَطْنِهَا ، فَقَالَ: إِنِّي أُرَاكُمَا قَدْ دَعَوْتُمَا عَلَيَّ، فَادْعُوَا لِي، فَاللَّهُ لَكُمَا أَنْ أَرُدَّ عَنْكُمَا الطَّلَبَ، فَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَجَا، فَجَعَلَ لاَ يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا قَالَ: قَدْ كَفَيْتُكُمْ مَا هُنَا، فَلاَ يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا رَدَّهُ، قَالَ: وَوَفَى لَنَا) صحيح البخاري (٤/ ٢٠٢)

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمايي: بیا مونږ حرکت وکړ پس له هغې چې لمر زوال کړی ؤ، او سراقه بن مالک زمونږ په تعقیب پسې را روان ؤ، څه وخت چې سراقه مونږ ته نزدې په حرکت کې ؤ هغه مې ولید او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې عرض وکړ چې یو کس زمونږ د نیولو هڅه کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : مه پریشانه کیږه، ځکه چې لوی خدای جل جلاله له مونږ سره دی، وروسته یې د سراقه په حق کې ښیرا وکړه چې د هغې په اثر د سراقه اسپه تر ګیډې پورې په زمکه کې ننوتله او سراقه وویل ما ته معلومه شوه چې تاسو زما په حق کې ښیرا کړې، اوس که دعا راته وکړئ چې له دې مصیبت څخه خلاص شم نو لوړه کوم څوک هم چې ستاسو په تعقیب کې وي هغه به بیرته ستنوم او له لارې څخه به یې ګرځوم، همدا وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نوموړي په حق کې دعا وکړه او له مصیبت څخه ورته نجات حاصل شو، وروسته چې به هر څوک له سراقه سره مخامخ کیدل هغه کس ته به یې ویل چې حضرت محمدصلی الله علیه وسلم او ملګری یې په دې لوری (طرف) کې نشته (یعنې هغوی دیخوا ته نه دي راغلي) او په خپله وعده له مونږ سره وفا وکړه.

۷- رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته مړ حیوان خبر ورکوي:
ابوهريره رضي الله عنه روایت نقلوي او فرمايي: (لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم شَاةٌ فِيهَا سَمٌّ ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « اجْمَعُوا لِي مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنَ الْيَهُودِ » . فَجُمِعُوا لَهُ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « إِنِّي سَائِلُكُمْ عَنْ شَىْءٍ فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِىَّ عَنْهُ »..... قَالُوا نَعَمْ . فَقَالَ « هَلْ جَعَلْتُمْ فِي هَذِهِ الشَّاةِ سُمًّا » . فَقَالُوا نَعَمْ . فَقَالَ « مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ » . فَقَالُوا أَرَدْنَا إِنْ كُنْتَ كَذَّابًا نَسْتَرِيحُ مِنْكَ ، وَإِنْ كُنْتَ نَبِيًّا لَمْ يَضُرَّكَ .) صحيح البخاري(١٤/ ٤٣٧)
ترجمه: کله چې خیبر فتح شو؛ نو رسول الله ﷺ ته په زهرو لړلی یو پسه راوړل شو، رسول الله ﷺ وفرمایل چې ددغه ځای یهود ما ته راټول کړئ، یهود ورته راټول کړل شول... نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: که زه ستاسو څخه د یو شي پوښتنه وکړم آیا تاسو به رښتیا راته ووایاست؟ هغوی وویل: هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: آیا په دې پسه کي مو زهر اچولي دي؟ هغوی وویل: هو، بیا رسول الله ﷺ پوښتنه ورڅخه وکړه چي په کومه وجه مو داسي وکړل؟ هغوی وویل: مونږ غوښتل چې دا معلومه کړو چي که ته کاذب وې نو ستا څخه به په استراحت او بې غمه شو او که چیرې ته نبي وې نو دا درته ضرر نشي رسولی.
په نورو روایاتو کي راځي چي خپله همدغه کباب سوي پسه ورته وویل چي زه په زهرو لړلی یم.
امام عبدالرزاق په مصنف کې ذکر کړي دي:(عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ امْرَأَةً يَهُودِيَّةً أَهْدَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةً مَصْلِيَّةً بِخَيْبَرَ، فَقَالَ لَهَا: «مَا هَذِهِ؟» قَالَتْ: هَدِيَّةٌ، وَتَحَذَّرَتْ أَنْ تَقُولَ مِنَ الصَّدَقَةِ فَلَا يَأْكُلُهَا، فَأَكَلَهَا وَأَكَلَ أَصْحَابُهُ، ثُمَّ قَالَ لَهُمْ: «أَمْسِكُوا»، فَقَالَ لِلْمَرْأَةِ: «هَلْ سَمَّمْتِ هَذِهِ الشَّاةَ؟» قَالَتْ: نَعَمْ قَالَتْ: مَنْ أَخْبَرَكَ؟ قَالَ: «هَذَا الْعَظْمُ»، لِسَاقِهَا وَهُوَ فِي يَدِهِ قَالَتْ: نَعَمْ ). مصنف عبد الرزاق الصنعاني (٦/ ٦٦)

ترجمه: دعبدالرحمن بن کعب بن مالک رضي الله عنهم څخه روایت دی چې یوې یهودۍ ښځې نبي علیه السلام ته وریت کړل شوی پسه د خیبر د فتحې پر وخت هدیه کړ، نبي علیه السلام ورته وویل دا څه دي؟ هغه ښځې وویل دا هدیه ده او ددې نه یې ځان وساتلو چې ووایې دا صدقه ده ځکه چې بیا به یې پیغمبر علیه السلام نه خوري، نو نبي علیه السلام ورڅخه خوراک پیل کړ او اصحابو کرامو هم خوراک پیل کړ، بیا نبي علیه السلام وفرمایل: صبر وکړئ او لاس ونیسئ له خوراک څخه. بیا یې هغه ښځې ته وویل: آیا ته دا پسه زهرجن کړی دی؟ هغه ښځې وویل : هو! هغه ښځې وویل چا ته خبر کړی؟ نبي علیه السلام وویل: دغه هډوکي چې د پنډۍ څخه ؤ او هغه دنبي علیه السلام په لاس کې ؤ. هغه ښځې وویل: هو! ما دا پسه په زهرو لړلی ؤ.